د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون

د اقتصاد پوهنځی

# عمومي اقتصادي سیاستونه






د محصل نوم : ..................................

ترتیب کوونکی : استاد ذبیح الله ( عظیمي )

ټولګی : څلورم

سمستر : اوم

څانګه : ..................................

کال: ................................................................ ۱۳۹۶ هـ ش

Download from:aghalibrary

# لومړی څپرکی

## اقتصادي سیاستونه

### سیاست پېژندنه:

**د سیاست کلیمې مانا او مفهوم** : سیاست د ښایسته کولو په مانا دی او باید وواېو چې د هېواد او حکومت د چارو د ترسره کولو لپاره استعمالېږي. دا ځکه چې د حکومت هدف د خلکو په حالت کې اصلاح او بهتر والی راوستل دي، نو په دې اساس هم ویلای شو چې په منظم ډول د حکومت پرمخ بېولو ته سیاست وایي.

په انګلیسي ژبه کې politic کلمه یوازې د ملکي خدمتونو او دولتي چارو د سمون لپاره استعمالېږي،ولې په عربي ژبه کې سیاست هر اړخیزه مانا او مفهوم لري لکه: د نفس اصلاح کول، د کورنۍ اصلاح کول او حتی ټول اصلاحي کارونه د همدې کلیمې په مفهوم کې شامل دي، د پورته څرګندونوڅخه په ډاګه شوه چې سیاست په لغت کې د یوه شي سمولو، اصلاح کولو، په ښه ښه جوړولو او ښایسته کولو ته وایي.

### د سیاست اصطلاحي پېژندنه

د سیاست اصطلاحي پېژندنې لپاره سیاست پوهانو بېلابېلو تعریفونه وړاندې کړي چې د هغوی د تعریفاتو ځینې بېلګې په لاندې ډول ذکر کوو:

1. امام غزالي (رح) سیاست داسې تعریفوي: د خلکو اصلاح کولو او د دنیوي او اخروي ستونزو څخه د خلاصون نېغې لارې ته لارښوونې کولو ته وایي .
2. د سیاسي علومو دایره المعارف چې د کویټ پوهنتون خپور کړی دی سیاست داسې تعریفوي : د انساني ټولنو د اداره کولو فن ته سیاست وایي
3. په علم السیاست کې د دولت د چارو د چلولو فن ته سیاست وایي .



Download from:aghalibrary

او په انسيکلوپيډيا کې د نولي په نوم يو سياست پوه سياست په درې ټکو کې واضح کوي

1. سياست د شته امکاناتو غوره کاروني او لږو امکاناتو د ډيرې کاروني پوهه ده .
2. سياست په انسانانو حکومت کول دي.
3. سياست د واک لپاره مبارزه ده.

## اقتصادي سياست پېژندنه

اقتصادي سياست د عمومي سياست يوه څانګه ده او هدف ور څخه اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی اېښودل دي.

**اقتصادي سياست** : اقتصادي سياست د هغه کوښښونو او هلو ځلو څخه عبارت دی کوم چې ټول اقتصادي جريانات په يوه سيمه، هېواد او يوه منطقه کې د خپل تاثير لاندې راوستل غواړي .

اقتصادي سياست په منطقوي لحاظ په درې ډوله دی چې عبارت دي له:

1. **سيمه ايز (محلي) اقتصادي سياست** : محلي اقتصادي سياست هغه وخت مطرح کېږي کله چې يوه اقتصادي ستونزه يوې وړې سيمې ته متوجه وي .
2. **ملي اقتصادي سياست** : ملي اقتصادي سياست هغه وخت مطرح کېږي کله چې يوه اقتصادي ستونزه يو هېواد ته متوجه وي.
3. **بين المللي اقتصادي سياست** : هغه وخت مطرح کېږي کله چې يوه اقتصادي ستونزه څو هېوادونو ته متوجه وي .

همدارنګه اقتصادي سياست د بازار په اقتصادي نظام کې ټول هغه تدابير چې د مستقلو ادارو له خوا د بازار د ضعف او کمزورۍ سره د مقابلې لپاره په کار باندې ورل کېږي د اقتصادي سياستونو په نوم يادېږي .



Download from:aghalibrary

اقتصادي سياست د هر ډول عمومي اقدام څخه عبارت دی کوم چې اقتصادي وضعيت ته د تغير ورکولو لپاره د يوې يا څو اقتصادي وسيلو په واسطه باندې يو يا څو اقتصادي اهدافو ته د رسيدو په خاطر د دولت د باصلاحيت ارګان له خوا عملي کېږي .

اقتصادي اهداف او مقاصد عبارت دي له : اقتصادي پرمختيا ، د پيسو د ارزښت ثبات ، د تادياتو د بيلاس توازن، د قيمتونو ثبات او استحکام، کامل استخدام، اقتصادي رفاه او سوکالي، د کاري ساعتونو کموالی ، اجتماعي خدماتو ته لاس رسی ، د عوايدو زياتوالی ، دعايد عادلانه ويش، د هېواد دمختلفو منطقو او سيمو متوازن رشد او داسې نور....

اقتصادي سياستونه کمي ا و کيفي متحلينو در لودونکی دی کوم چې د پاليسۍ جوړونکي له خوا د اقتصادي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره کارول کېږي او د نومورو وسايلو څخه د اقتصادي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ګټه اخيستل کيږي چې دغه متحولين عبارت دي له : د بانګې ربحه، د مالياتو فيصدي ، د مزد او معاش اندازه ، د قيمتونو سطحه ، ګمرکي تعرفې ، دولتي مصارف ، د اسعارو نرخ او داسې نور.....

دغه متحولين او يا د اقتصادي پاليسۍ وسايل د يو يا څو اقتصادي پاليسيو لکه د پس انداز سياست ، د سرمايه ګذارۍ سياست ، مالي سياست ، پولي سياست ، د استخدام سياست ، د قيمتون سياست او داسې نورو سياستونو لپاره په کار وړل کېږي .

د اقتصادي سياستونو طرحه ورکونکي اشخاص او موسسات هغه سازمانونه دي کوم چې يو سلسله معلومات او لومړيتوبونه تشخيصوي او د هغې د ترلاسه کولو لپاره د حل لارې چارې پيشنهادوي چې په ځينو هيوادونو کې ددغه پاليسيو طرحه کوونکي پارلمان ، مقتدر احزاب او مستهلکين وي .

د اقتصادي سياست د مؤثريت او ګټورتوب  د درجې د لوړوالي لپاره لازمه ده چې د اقتصادي معلوماتو څخه علاوه غيرې اقتصادي معلومات کوم چې د يوې ټولنې خصوصيات تمثيلوي لکه محيطي مشخصات ، طبيعي مشخصات ، تخنيکي مشخصات ، رواني مشخصات ، سازماني مشخصات ، بين المللي مشخصات ، د عقايدو مشخصات


Download from:aghalibrary

، ملي عنعنات ، تاریخي ارزښتونه سیاسي نظام او داسې نور په نظر کې نیول کېږي د همدغي پیچیده ګي او سخت والي په نظر کې نیولو سره دولتونه مکلف دي چې د اقتصادي پالیسیو جوړونکو په انتخاب او ټاکلو کې عیني او افاقي معیارونه په نظر کې ونیسي او د پالیسیو د طرحې مسؤلیت هغو افرادو ته وسپاري کوم چې د اجتماعي مسایلو د درک کولو څخه علاوه د اقتصاد او ټولنپوهنې په رشتو کې علمي او عملي تجربې او مالومات ولري .

## د اقتصادي سیاستونو د لوستنې هدف

څرنګه چې په مخکنیو درسونو کې مو لوستي وو، چې په اقتصادي امورو کې د دولت مداخلې د وخت او زمان د غوښتنو سره سم زیاتې او کمې شوي دي، یانې هرکله چې په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله زیاته وي نو په هماغه اندازه د دولت اغیزې هم ډېرې وي، چې د دې سره د اقتصادي سیاست فعالیت هم فعاله او منظم وي او کله چې د دولت مداخله په اقتصادي امورو کې کمزورې وي نو اغیزې یې هم چندان نه وي او د اقتصادي سیاست فعالیت هم کمزورې وي .

چې په پورتنیو دوارو حالاتونو کې اقتصادي سیاستونه په بېلابېلو ډولونو سره تعریف شوي دي او نوموړي سیاستونه مونږ د دوه اقتصادي مکتبونو د اقتصاد پوهانو له نظره مطالعه کوو.

### په لومړي حالت کې د اقتصادي سیاست تعریف:

په لومړي حالت کې د کلاسیکو علماوو بنسټ اېښودونکی ادم سمیت وایي چې په اقتصادي چارو کې د دولت مداخلې ته ضرورت نشته ځکه چې اقتصادي تعادل د رقابت په اساس خپله د تعادل حالت ته راځي او همدغه رقابت په بازار کې اجتماعي منفعیت او ګټورتوب تضمینوي . او بیا د اجتماعي منفعیت او ګټورتوب منابع په مؤثر ډول باندې توزیع کوي یانې د تولید د عواملو ګټه د رقابت په اساس ویشل کېږي د دې عالمانو په نظر باندې که



Download from:aghalibrary

چېر ته دولت په اقتصاد کې مداخله وکړي نو په دې صورت کې به د منابعو ګټورتوب او منفعيت له منځه لاړ شي .

همدارنګه د کلاسيک مکتب اقتصاد پوهان وايي چې په بازار کې د توليد ارزښت د مؤلدينو او مستهليکينو له لوري په اتوماتيک ډول سره ټاکل کېږي . ځکه هر کله چې عرضه او تقاضا د توليد ارزښت لوړ کړي نو له دې سره سم قيمت هم لوړېږي او که چېرې د توليد ارزښت ټيټ شي نو د دې سره قيمتونه هم ټيټېږي خو که چېرې د دغو قيمتونو په لوړوالي او ټيټوالي د ټولنې افراد او وګړي خوښ او راضي وي نو بيا په همدې اساس د دولت مداخلې ته اړتيا نه ليدل کېږي .

له بلې خوا لوړ قيمتونه د اقتصادي رشد او ودې سبب ګرځي چې همدغه رشد او انکشاف ټولنيز او اقتصادي ګټورتوب منځ ته راوړي او له دې سره سم اقتصادي تعادل قايمېږي ، نو په دې حالت کې دولت بايد په اقتصادي چارو کې مداخله ونه کړي او يوازې د دولت دنده دا ده چې داسې چاپېريال ايجاد کړي چې د بازار قوتونه (Market forces) وکولای شي چې د توليد ټولې منابع په متفاوت ډول او د رقابت په اساس توزيع او استفاده ور څخه وکړي . ياني د نهايي توليد په پايله لاسته راغلې ګټه په سهيمو عواملو باندې په عادلانه توګه توزيع کړي .مثلا هر کله چې يو جنس ته تقاضا لوړه شي نو د همدغه جنس قيمت هم لوړېږي نو په دې صورت کې په همدې جنس کې د توليد عواملو ته تقاضا هم لوړېږي او بلاخره عايد يې هم ورسره زياتېږي . نو په دې حالت کې چې دولت مداخله ونه کړي اقتصادي سياستونه په لاندې ډول سره تعريفېږي :

**اقتصادي سياستونه د هغه نهادونو او قوانينو د حفظ او ساتنې څخه عبارت دی چې د بازار قوتونو ته د دې امکان برابر کړي ترڅو په مؤثر ډول خپل فعاليت تر سره کړي . چې دغه قوانين عبارت دي له : بيمه ، تقاعد او د کار شرايط .**

همدارنګه په دغه پورته حالت کې د بازار اقتصاد ونشو کولای چې مؤثر فعالیت ته زمینه برابره کړي ، نو ځکه د بازار اقتصاد د ضعف سره مخ شو او ونه شو کولای چې اقتصادي نظام په سالم ډول رهبري کړي. د همدې له امله په ټولنه کې د بازار له کړنو او اغېزو څخه نارضایتي منځته راغله او وروسته له دوهم نړیوال جنګ څخه د کینز نظریاتو په ټولنه کې زیات محبوبیت وموند او د دولتونو له خوا په اقتصادي چارو کې نوی نقش او زیاتې اغېزې څرګندې شوې، نو ځکه له دې وروسته د اقتصادي سیاستونو سازماندهي په صراحت سره خپل اهمیت څرګند کړ،یانې په دې اړوند زیات کوښښ کېده چې د اقتصادي اهدافو مجموعه په همزمان شکل لاسته راوړي . د دولت اقتصادي اغېزو په زیاتېدو سره اقتصادي اهداف په اګاهانه ډول وروسته له نړیوال جنګ څخه زیاتوالی وموند ځکه چې د بازار اقتصاد د ضعف او کمزورۍ سره مخامخ شو او ونشو کولای چې اقتصادي نظام په سالم ډول رهبري کړي .

### په دوهم حالت کې د اقتصادي سیاستونو تعریف:

د دې په باره کې نیوکلاسیک اقتصاد پوهان وايي چې د بازار په اقتصادي نظام کې تعادل نه قایمېږي او که چېرې قایم هم شي نو هغه د تصدیو له خوا ماتېږي ځکه چې تصدۍ د زیاتې ګټې قیمتونه لوړوي په دې صورت کې طبیعي رقابت له منځه ځي او مصنوعي رقابت رامنځته کېږي چې په اقتصاد کې بیا تعادلي حالت په خپله له منځه ځي له بلې خوا څخه مؤلدین د لوړو قیمتونو لپاره اجناس پټوي او دغه عمل یې انحصار منځ ته راوړي چې انحصار د مؤثر فعالیت مخه نیسي. نو ددې لپاره چې بازار مؤثر فعالیت وکړي بېروني قوې ته ضرورت لیدل کېږي چې دغه بېروني قوت دولت دی او دولت کولی شي چې د خپل موقف څخه په استفادې اړونده ستونزې حل کړي .

سمويلسن وايي: د بازار اقتصاد و نشو کولی چې په اقتصاد کې تعادل قايم کړي ، ځکه چې د بازار د نيمګړتياوو له امله ځينې ستونزې ايجاد شوي لکه : د عامه اجناسو عدم موجوديت ، بهرني تاثيرات ، سياسي بې ثباتي، د کافي معلوماتو نه شتون او داسې نور...

نو د دغه ستونزو د حل لپاره دولت ته ضرورت ليدل کېږي .

چې په دغه وخت کې اقتصادي سياست لاندې  تعريف اختياروي او يا  په دوهم حالت کې اقتصادي سياستونه داسې تعريفېږي:

**تعريف : د بازار په اقتصاد کې ټول هغه تدابير چې مستقلو ادارو او دولت له خوا نه د بازار د ضعف سره د مقابلې لپاره په کار وړل کېږي د اقتصادي سياستونو په نوم ياد يږي.**

په ۱۹۷۱م کال کې د اقتصاد يو عالم د کالدور په نامه داسې وايي : پخوا به دولتونو د دې څخه پرهېز کاوه چې په اقتصاد کې مداخله وکړي خو اوس مهال د دولت مداخله په اقتصاد کې ضروري شوې ده او په اقتصاد کې دغه مداخله د ارزيابۍ لاندې نيول کېږي هغه ځکه چې دولت د اقتصادي اهدافو په تعين او لاسته راوړلو کې مهم رول لري.

همدارنګه ويلای شو چې په اوس وخت کې يو اقتصادي نظام هم په خپله په خپل سر د يوې ټولنې هغه اقتصادي اهداف او غوښتنې په مطلوبه توګه او پوره مؤثريت سره پوره کولای نه شي ترڅو پورې چې ځانګړي اقتصادي سياستونه ورته وضع نه شي ،چې دغو سياستونو او اهدافو ته د رسيدو په لاروچارو د ۱۹۳۲-۱۹۳۰م کلونو کې د رامنځته شوي اقتصادي بحران سره او ببرته د دې وضعې نه د ټولنې د خلاصون په موخه ضرورت محسوس شو چې څه بايد وشي؟ چې بيا د لمړي ځل لپاره کينز يوه پاليسي وضعه کړه ( بايد دولت مداخله وکړي او مجموعي تقاضا زياته کړي ) او بيا په ځانګړي ډول په اوسني وخت کې چې نړۍ سره يوه شوې د ازاد بازار شتون او د خارجي تجارت ازادي د خصوصي سکتور پرمختګ، خارجي پانګوونې ته او داسې نور ټول هغه عوامل دي چې بايد هرهېواد له خپل داخلي اقتصاد د

ثبات او ټولنې د رفاه لپاره ځانګړي اقتصادي پاليسيانې ولري . نو بايد په ياد ولرو چې هره اقتصادي پاليسي بايد له درې اړخونو څخه مطالعه شي :

1. موضوع : په دې مانا چې اقتصادي پاليسي د کومو ځانګړو موخو لپاره وضع کېږي.
2. اصول او قواعد : په دې مانا چې د ټولو اوصولو او قواعدو په رڼا کې به نوموړې پاليسۍ ټاکلي موخو ته ځان رسوي .
3. وسايل او امکانات : په دې مانا چې بايد ټول هغه امکانات او وسايل که هغه سياسي ، اجتماعي او يا هم اقتصادي وي بايد وړاندې له وړاندې څخه پيشبيني شي چې پرمټ يې وکولی شي ټاکلي اقتصادي اهداف لاس ته راشي .

دا چې اقتصادي اهداف د يوې ټولنې او اقتصادي نظام څخه تر بلې ټولنې او اقتصادي نظام پورې توپير لري او هره ټولنه ( اقتصادي نظام ) له خپل ځان لپاره خپل ځانګړي اهداف لري چې غواړي د يوې مناسبې اقتصادي پاليسۍ رامنځ ته کولو سره هغه ټاکلي اقتصادي اهداف لاسته راوړي ، نو مونږ دلته يو لړ هغه اقتصادي اهداف چې تقريباً هره ټولنه او اقتصادي نظام يې غواړي ترلاسه کړي تر بحث او مطالعې لاندې نيسو چې هغه عبارت دي له :

1. **کامل استخدام ( Achieving Full Employment ):** کامل استخدام په دې مانا چې د امکان ترحده پورې د کارګرې قوې په کار ګمارل او د همدغې کارګرې قوې زياتوالی او د دوی څخه د امکان تر حده پورې کار اخيستل دي تر څو اکثره برخه يې بېکاره پاتې نشي . يا په بل عبارت د کارګرې قوې د کاري سويې تقويت په دې خاطر چې توليدي ( کاري ) مؤثريت او مفيديت يې لوړ شي او پر مټ يې اقتصادي وده رامنځته شي، دا د دې لپاره چې د نوموړې کاري قوې زياته برخه بېکاره پاتې شي نو يو لړ اقتصادي او اجتماعي زيانونه لري، نو ويلای شو چې پوره استخدام يا کامل استخدام په دې مانا دی چې ټول وګړي چې ځانګړې

مهارتونو او تخصص درلودونکی وي او غواړي چې کار وکړي په مختلفو کارونو او شغلونو کې په کار مصروف وي ،نو په داسې حالت کې مونږ ویلای شو چې په نوموړي ټولنه کې کامل استخدام شتون لري . لیکن په حقیقت کې په اقتصاد کې کامل استخدام ممکن نه دی او هره ټولنه د کارګري قوې یوه خاصه فیصدي د ځینو دلایلو په له امله بېکاره لري چې ورته طبیعي بېکاري وايي .

د یو هېواد کاري قوه به د لاندې درېوو خصوصیاتو د لودونکې وي:

- د کار کولو قانوني عمر به یې بشپړ کړی وي .
- د یو خاص مهارت او هنر درلودونکی به وي .
- د کار کولو علاقه به ولري او هم د کار په لټه کې وي .

نو د پورته درېوو خصوصیاتو په پوره کولو سره که اوس یو نفر کار کوي نو ویلای شو چې په کار ګمارل شوی دی . او که چېرته یې کار نه وي پیداکړی او لومړنی درې واړه شرطونه یې پوره کړي واوسي نو بیا وایو چې دا کس بېکاره دی .

2. **د قیمتونو ثبات ( Maintaining price stability ) :** اقتصادي استقرار په ټولنه کې د نرخونو د ثبات سره تړاو لري دا ځکه چې د نرخونو بې ثباتي او هر وخت د چټک بدلون ( انفلاسیون ) دعاید په عادلانه ویش اغیزه لري او همدارنګه یو لړ نور منفي تاثیرات هم لري لکه په خارجي تجارت ، اقتصادي ودې او پراختیا ، په استهلاک او کار او داسې نور...

کله چې قیمتونه لوړېږي اقتصادي ثبات ور سره متضرره کېږي او له منځه ځي همدارنګه له بل پلوه د ټولو تولیدي عواملو پوره استعمال او ور څخه اعظمي ګټه اخیستنې سره اقتصادي ثبات او استقرار په مانا دی او اقتصادي ثبات کامل استخدام رامنځته کوي .

په ټولنه کې د ځینو اقتصاد دانانو له نظره د اقتصادي رشد لپاره یو ضروري شرط دی ، نو کله چې په اقتصاد کې کامل استخدام شتون ونه لري نو په کال کې